# د پښتو

## د زده‌کړې اساسي قابلیتونه



څلورم ټولګی

# بِسْـــــمِ اللّٰـهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمْ

## ســـريزه

دا کتـاب د ښوونکي له دری، پښتـو او رياضی د مؤخذ کتـابونو د سلسلی څخه يو کتاب دی کوم چې په ۱۹۹۹ کال د تجربه کارو افغانی تعليم يافته پوهانو د يوی ډلی پواسطه ترتيب شـوی تر څـو له ښـوونکو سـره د لازمی قابليتونو په زده کړه او پوهه کې مرسته وکړي کوم چې د لومړنيو تعليمـاتو پروګرام په تدريس کې ضروری دي. دا مـواد د ډول ډول مـوادي منابعـو په اساس په خاص ډول د مـوجوده افغانی لومړنيو درسی کتابونو څخه ترتيب شوی دي.

دا انکشافی کتابونه په لاندې ډول ترتيب شوی دي.

- پدی برخه کی شپږ کتابونه (د اول تر شپږم ټولګی پوری) موجود دي چې هر يو يې د يو ټولګی لپاره دی.
- هر کتاب يې د ژبی د قابليتونو په يو لست مشتمل دي چی دا قابليتونه د مربوط ټولګی د سويې ښکارندوی دی، او ښوونکی سره په دی هکله مرسته کوی چې کوم لازمی قابليتونه بايد تدريس شي.
- د لومړی ټولګی لپاره قابليتونه عبارت دي له د لوستلو آمادګی، د مهارتونو زده کول، او د ليکلو مهارتونه (انشأ).
- دوهم نه تر شپږم ټولګي پوري قابليتونه عبارت دي له:

اوریدل او لوستل، لغات، د مفاهیمو درک کول، گرامری جوړښتونه، املأ او انشأ.

- د پنځم او شپږم ټولگیو لپاره د مطالعی مهارتونه اضافه شویدي.

په لست کې ذکر شوو قابلیتونو هر یو په خاصو لسانی مهارتونو تقسیم شوی دي تر څو چې د ماشومانو مختلفو سویو انکشاف ته ځواب ووایي. د ښوونکی سره په پوهه کې مرسته کوی چې کوم مشخص لسانی انکشافی مهارتونه ضروری دي چې باید په هر ټولگی کې وښودل شي.

د هر ټولگی کتاب د هغه لسانی انکشافی مهارتونو مثالونه وراندی کوي چې سرته رسول یې په یو خاص ټولگی کې ضروری دي.

- دا مثالونه په لومړی ټولگی کښې د تورو، کلمو او لندو متنونو په باره کې دي.

- د دوهم ټولگی څخه تر شپږم ټولگیو پوری مثالونه په لاندی ډول ترتیب شوی دي:

**د مفاهیمو درک:**

کم لوسته متنونه د مفاهیمو د درک د سوالونو سره چې د اوریدلو او لوستلو مهارتونه د مفاهیمو د درک په اړوند وازمایي.

**گرامری جوړښتونه:**

گرامری جوړښتونه د تمرینونو هغه مثالونه وړاندی کوي چې تدریس یې د هر ټولګی په سویه ضروری دی.

**املا ء:**

د املا ء د خاصو مقرراتو او قوانینو هغه مثالونه وړاندی کوی چې په تدریج سره مغلق او مشکل کیږي.

**انشأ:**

– د لیک د تمرینونو مثالونه وړاندی کوې چې په تدریج سره مغلق او مشکل کیږی.

دا مثالونه ښوونکي سره په لاندی ډول مرسته کوي:

– دا امر یقینی کوی چی ټول ښوونکی مربوط مهارت په ښو ډول استعمالوی .

– ښوونکي کولای شی چی دا مثالونه د دی لپاره چی آیا زده کوونکي مربوط مهارت زده کړی ده یا نه؟ استعمال کړی.

– ښوونکی کولای شی چی د دغه مثالونه په شان نور تمرینونه زده کوونکی لپاره جوړ کړی.

دا مؤخذ کتابونه نه یوازی د ښوونکو د استعمال له پاره دی بلکه د ښوونکو روزونکی هم ورڅخه استفاده کولای شی. چی د دې کتابونه

څخه د زده کوونکی د پوهې د آزموینې د پاره هم کار واخلی تر څو
چې د زده کوونکی مهارتونو ته انکشاف ورکړای شي.
ښوونکی کوولای شی چه اضافی مثالونه د تمرینونه له مخی جوړ کړی.

مفتیش (سوپروایزر) د دی لپاره مثالونه استعمالولای شی، چې معلوم کړی ماشومان په لسان کی لازمی قابلیتونه زده کړی دی یا نه؟ ترتیب کوونکی پدی هیله دی چی ټول افغانی ښوونکی به ذکر شوی مواد (کتابونه) له ماشومانو سره د کار کولو په برخه کی مفید او ګټور ومومی.

## دا کتابونه د لاندیني موسسو په ګډون ترتیب شوی دي:

| | | |
|---|---|---|
| OI/HEP | Ockenden International | |
| | Hangu Education Program | د هنګو د ښوونې او روزنې پروګرام |
| UNCHS/ Habitat | United Nation Center for Afghanistan | هبيتات |
| IRC | International Rescue Committee | د ژغورنې نړیواله کمیته |
| SCA | Swedish Committee for Afghanistan | د سویډن کمیته د افغانستان دپاره |
| SAB | Solidarite Afghanistan Belgium | د بلجیم سره د همبستګۍ اداره |
| GTZ-BEFARE | Basic Education for Afghan Refugees | د افغان د مهاجرو لپاره اساسی زده کړی |
| AIL | Afghan Institute of Learning | د افغان آموزشی انیستیتوت |
| CARE | Cooperative Assistance Relief Everywhere | پاملرنه |
| PSD | Partners for Social Development | د اجتماعی ترقی همکاران |
| SCF-US | Save the Children Federation - US | د ماشومانو د حمایې موسسه |
| NAC | Norwegian Afghanistan Committee | ناروی کمیته د افغانستان له پاره |
| ECAR | Education Committee for Afghan Refugees | د افغان مهاجرینو د ښوونې او روزنې کمیته |

| | | |
|---|---|---|
| AMNA | Creation of the Pilot Schools in Afghanistan | د نمونه يي ښوونځيو تشكيل په افغانستان كې |
| HCI | Human Concern International | د بشرى مرستو بين المللى موسسه |
| Unicef | United Nation Children Fund | يونيسف |
| CCA | Cooperation Center for Afghanistan | متا |
| ASC | Afghanistan Study Center | د افغانستان د مطالعاتو مركز |
| ISRA | Islamic Relief Agency | د اسرا اسلامى خيريه موسسه |
| | Afghan Teachers and Schools Union in Quetta | د كويټه د افغاني ښوونځيو او معلمينو اتحاديه |

# د پښتو د زده کړې اساسي قابلیتونه
# څلورم ټولګی

**د اوریدلو او لوستلو مهارتونه:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- د پښتو ژبې اختصاصي آوازونه سره بیل کړي.

**لغات:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- د لغتونو مختلفو شکلونه په متن کښې استعمال کړي.

**د مفاهیمو درک:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- د معنی د انتقال او وضاحت په خاطر علامې استعمال کړي.
- د متن اصلي مطلب معلوم کړي.
- په متن کې د جزیاتو په باره کې سوالونو ته ځوابونه ووایې.
- په یوه کیسه کې شخصیتونه سره مقایسه کړي.
- په یوه متن کې د خیال او حقیقت تر منځ فرق وکړي.

**ګرامري جوړښتونه:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- مفردې جملې په جمع او جمع جملې په مفردو بدلې کړي.
- اسمونه په مفردو او جمع جملو کې په ضمایرو او همدارنګه ضمایر په اسمونو تبدیل کړي.
- حال جملې په ماضي او همدارنګه ماضي جملې په حال تبدیلې کړي.
- له مونثو او مذکرو اسمونو سره صفتونه په جملو کې استعمال کړي.
- اضافي توری په درسته توګه استعمال کړي.

**املا ***:

ماشوم به وکولای شی چې:

- د ژبې اساسي مهارتونه په درسته توګه ولیکي.

**انشأ:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- د لاربښودو سوالونو په مرسته د یو خاص موضوع په باب یو لنډ پاراګراف ولیکي.
- د کیسې پیښو ته ترتیب ورکړي.
- کیسه خلاصه کړي.

# څلورم ټولګی

## پښتو

## لوستل او په مفهومونو پوهېدل

### د افغانستان سیندونه

سپوږمۍ په څلورم ټولګي کې ده . د ښوونځي کورني کارونه په ښه ډول لیکي ، بیایې پلار ته د غلطیو د سمولو له پاره لولي.

نن یې ورته د افغانستان د سیندونو په باره کې کورنی کار ورکړی و .

پلار یې ورته دا رنګه معلومات ورکړل: زموږ ګران هېواد ډېر سیندونه لري، چې مشهور یې دا دي:

د کابل، هلمند، آمو، کنړ، الیشنګ، الینګار، هریرود، خاشرود، فراه رود، سالنګ، بنجشیر او د کوکچې سیندونه.

دا سیندونه ډېرې ګټې لري. لکه: فصلونه او باغونه اوبه کول ، د برښنا بندونه ، بېړۍ چلول ، کبان روزل د څښلو اوبه او داسې نور. برسېره پر دې ښکلې منظرې ، چمنونه ، ځنګلونه د سیندونو د اوبو په واسطه اوبه کیږي. د کروندو په ښه حاصل ورکولو او د مېوو د ونو په اوبولو کښې ورځخه ډېره ګټه اخستل کیږي.

خلک د آسونو ، اوښانو ، مېږو ، غواګانو او نورو حیواناتو رمې هم د څړ له پاره د سیندونو خواووته بیایي، ځینې خلک همېشه د سیندونو، په غاړو اوسېږي، د اوبو شور او زوږ او د سیندونو تازه هوا ډېر خوند ورکوي.

سپوږمۍ، وویل ، پلاره : رښتیا چې سیندونه د یوه هېواد له پاره ډېره ښه پانګه ده .

له جدول څخه د ضد کلمې په مقابل ستون کې یې ولیکئ.

| | | |
|---|---|---|
| صحیح | تاوان | بد |
| لږ، | مړاوی | دروغ |

| ښه | بد |
|---|---|
| غلط | |
| ګټه | |
| رښتیا | |
| ډیـر | |
| تازه | |

دا کیسه د څه په باره کې وه؟

-- د افغانستان غرونو

-- د افغانستان ځنګلونه

-- د افغانستان حیوانات

-- د افغانستان سیندونه

لاندینی پوښتنې ولولئ ، تر سم ځواب کرښه تاو کړئ:

څوک په څلورم ټولګي کې ده؟

-- شریف الله

-- سپوږمۍ

-- احمد ضیا

-- کریمه

له لاندینیو سیندونو څخه کوم یو یې په کنړ کې دي؟

-- د پنجشیر سیند

-- د هلمند سیند

-- خاشرود

-- د کنړ سیند

خلک کوم حیوانات د ځر له پاره بیایي؟

-- میږې او پسونه

-- چرګان

-- سپي

-- زمري

# نوروز

نوروز د نوي کال لومړۍ ورځ ده.

ټول خلک په دې ورځ ډېر خوشحاله وي، يو بل ته د نوي کال مبارکي وايي، ډول ډول خواړه برابروي. نوې جامې اغوندي. د سيل ځايونو ته ځي.

دا ورځ د خوشحالۍ ورځ ده. د ريدي ، ارغوان او غاټول ګلان غوړېدلي وي. د مځکې مخ په رنګ رنګ ګلانو پوښل شوی وي ، بزګران په کروندو کې په کرکيله پيل کوي. نيالګي کښېنوي ، باغوانان په باغونو کې د مېوو نيالګي، لکه: شفتالو ، زردالو ، آلوبالو ، انار، مڼې، ګيلاس، ناک ، آلوچې ، بادام او داسې نورې په دې هيله کښېنوي چې خپل هېواد سمسور او آباد کړي.

د نيالګيو کښېنول ډېرې ګټې لري، هوا صافوي، د سېلابونو مخنيوی کوي، مېوې کوي، او په ودانولو او سونګ کې ورڅخه کار اخېستل کېږي.

د درس اصلي مطلب څه دی؟

-- اختر دی .

-- نوروز دی .

-- د جمعې ورځ ده .

-- د خپلواکۍ ورځ ده .

# ګاونډیتوب

یوه ورځ نازو پلار ته وویل: «زموږ ګاونډی، پیر محمد کاکا، ناروغ دی. زوی یې حمید چېرته تللی دی . څوک نشته چې داکتر ته یې ورولي.»

د نازو پلار سمدلاسه د پیر محمد کاکا کور ته ورغی او روغتون ته یې ورووست. هره ورځ به یې پوښتنې ته ورته. څو ورځې وروسته پیر محمد کاکا روغ ، رمټ شو او خپل کور ته راغی، د نازو پلار ته یې کور ودانی ووایه.

نازو له پلار پوښتنه وکړه : «ګاونډي څوک دي؟»

پلار یې ورته وویل : «لوري ، څوک چې زموږ په شا و خوا کې اوسیږي، ګاونډي بلل کیږي . ګاونډیان یو پر بل ډېر حقونه لري.

موږ باید تل د ګاونډیانو درناوی وکړو که ناروغ وي ، پوښتنه یې وکړو، که محتاج وي ، مرسته ورسره وکړو ، په غم یې غمجن او په ښادۍ یې ښادمن شو.»

دا کیسه د څه په باره کې ده؟

-- د روغتون په باره کې

-- د ښوونځي په باره کې

-- د کورني ژوند په باره کې

-- د ګاونډیتوب په باره کې

د لاندې جدول کلمې ولولئ او هره یوه د خپلې ضد کلمې په مقابل کې ولیکئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شپه | روغ | پردی | کم | هېڅکله |
| موړ | خپګان | بې احترامي | ظلم | |

| ورځ | شپه |
|---|---|
| ناروغ | |
| خپل | |
| ډېر | |
| تل | |
| وږی | |
| خوشحالي | |
| درناوی | |
| مرسته | |

د لاندېنې جدول هم معنا کلمې ولولئ او په مناسبو جملو کې يې راوړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ويلي | همېشه | احترام | کومک | خوشحاله | جوړ |

پېر محمد کاکا روغ شو.

پير محمد کاکا ____ شو.

زموږ پيغمبر حضرت محمد(ص) فرمايلي دي.

زموږ پيغمبر حضرت محمد(ص) ________ دي.

موږ بايد تل د ګاونډيانو درناوی وکړو.

موږ بايد _____ د ګاونډيانو درناوی وکړو.

د ګاونډي په ښادۍ ښادمن شو .

د ګاونډي په ښادۍ _____ شو.

که محتاج وي ، مرسته ورسره وکړو .

که محتاج وي ، _____ ورسره وکړو .

تل د ګاونډيانو درناوی وکړو.

تل د ګاونډيانو _____ وکړو.

# شعر

ېوه ورځ چېرې په لاره تېرېدم زه
ناڅاپي د ونې لاندې ودرېدم زه

دوی مرغۍ شوی پاس په ونه کې په جنګ
دواړه غونډی کلوله شوی په دا رنګ

د غونډوسکې غوندی لاندی ولوېدلې
پیشو ټوپ کړ دواړه یی غبرګې ونیولې

چغ و پغ شور او فریاد بی وکړ ډیر
ولی څه کیده چی وخت و ځنی تېر

نفاق دواړه د بلا په خوله کې ورکړې
غلیم دواړه ریز مریز زیر او زبر کړې

که څوک کاندي اختلاف له خپله وروره
له دښمنه به پامال شي له ضروره

له لاندېنې چوکاټ څخه هم معنا کلمې د مربوطو کلمو په مقابل کې ولیکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| شور | زيات | زيانمن | شورماشور |
| دښمن | جگ یا لوړ | نابېره | په دې ډول |

| فرياد | شور |
|---|---|
| غلېم | |
| ډېر | |
| پامال | |
| چغ و پغ | |
| پاس | |
| ناڅاپي | |
| په دې رنگ | |

د لاندېنیو کلمو ضد په چوکاټ کې پیدا کړئ او په مقابل ستون کې یې ولیکئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| يوستوی | شپه | اتحاد، یووالی | غلیم | سوله |

| دوست | غلیم |
|---|---|
| ورځ | |
| غبرگ | |
| نفاق | |
| جنگ | |

شعر د څه شی په باره کې و؟

-- د افغانستان په باره کې

-- د نظافت په باره کې

-- د بې اتفاقۍ په باره کې

-- د لارې د تللو د آداب په باره کې

له لاندینی چوکات څخه مناسبې کلمې د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ.

| | | |
|---|---|---|
| توپ | شور | بلا په خوله |
| ریز مریز | وخت | غونډوسکی |

د غونډوسکي غونډی لاندی ولویدلی

پیشو ______کړ دواړه یې غبرګې ونیولې

چغ و پغ ______ او فریاد یې وکړ ډیر

ولی څه کیده چې ______ و ځنی تیر

نفاق دواړه د ______ کې ورکړې

غلیم دواړه ______ زیر او زبر کړې

# جـــرگـه

جرگه د افغانانو ملي دود دی. کله چې کومه ستونزه پېدا شي، د قوم مشران سره راغونډېږي. خبرې وریاندې کوي. هرڅوک خپل نظر وايي. د هر چا خبرې اورېدل کېږي. تر ډېر فکر او غور وروسته داسې پرېکړه کېږي، چې ټولوته د منلو وړ وي.

د جرگې له پرېکړو هېڅوک سر نشي غړولای. که څوک سرغړونه وکړي ناغه کېږي. د جرگې پرېکړې ټول خلک مني. د دوو کسانو، کورنیو، کلیو او قومونو تر منځ ستونزې او شخړې په جرگو اوارېږي.

د لاندې چوکاټ نه د هغو کلمو لپاره چې په جملو کښې په نخښه شوي دي په دوهمه جمله کښې مترادفې کلمې ولیکئ.

| |
|---|
| رواج، شخړه، راټولېږي، غور |

کله چې کومه <u>ستونزه</u> پېدا شي د قوم مشران سره راغونډېږي.

کله چې کومه ـــــــ پېدا شي د قوم مشران سره راغونډېږي.

په جرگه کې خلک او مشران راغونډېږي.

په جرگه کې خلک او مشران ـــــــ .

له ډېر فکر وروسته پرېکړې کېږي.

له ډېر ـــــــ وروسته پرېکړې کېږي.

جرگه د افغانانو ملي دود دی.

جرگه د افغانانو ملي ـــــــ دی.

دا لاندې لغتونه د جملو په مناسبو ځایونو کې استعمال کړئ.

| |
|---|
| ستونزه، خبرې اترې، سرغړونه، شخړې |

کله چې کومه ـــــ پیدا شي د جرګو له لارې هوارېږي.

په ستونزو باندې د جرګې مشران ـــــ کوي.

هیڅوک د جرګې له پرېکړو ـــــ نه کوي.

د قومونو تر منځ ستونزې او ـــــ د جرګو له لارې فیصله کېږي.

د دې مطلب سم ځواب په ـ√ـ نخښه وښایاست.

ـــ جرګه د پښتنو یو ملي دود دی.

ـــ پردې دود دی.

په جرګه کې :

ـــ د دوو کسانو ترمنځ ستونزې پیدا کېږي.

--- د دوو کسانو ترمنځ ستونزې اوارېږي.

--- د دوو کسانو تر منځ راکړه ورکړه او راشه درشه ټینګېږي.

د جرګې له پرېکړو څخه:

ـــ سرغړوونکي ته انعام ورکول کېږي!

ـــ د سر غړوونکي ملاتړ کېږي!

ـــ هڅوک سرغړوونه نه کوي.

# واکسین کول

شریفه له مور سره پر لار روانه وه، یو ماشوم یې ولید، چې پر پښه شل و. شریفې له مور څخه پوښتنه وکړه، چې دا ماشوم ولې شل دی؟

مور یې ورته وویل: دې ماشوم ته د پولیو واکسین نه دی ورکړ شوی.

ماشوم باید د زیږیدو نه وروسته په منظم ډول واکسین شي.

شریفې پوښتنه وکړه، مورې د پولیو واکسین څه ته وایې؟

مور یې وویل: دا واکسین یو ډول څاڅکي دي، چې کوچنې ته د ناروغۍ د مخه په خوله کې څڅول کیږي او یا د ستنې (پیچکارۍ)، پواسطه په غوښه کې تیریږي. کله چې ناروغي پر بدن حمله وکړي، دا واکسین یې مخنیوی کوي.

لاندې کلمې د جملو په مناسبو او تشو ځایونو کې ولیکئ.

| |
|---|
| بدن، حمله، وړوکی، پوښتنه |

واکسین یو ډول مواد دي چې د خولې یاستن لګولو په وسیله پر ـــــــ تطبیق کیږي.

کله چې ناروغي پر بدن ـــــــ وکړي، دا واکسین یې مخنیوی کوي.

شریفې له مور څخه ـــــــ وکړه.

یو ـــــــ ماشوم یې ولید.

لاندې هم معنا کلمې د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ.

| قسم، پېچکاري، وجود |
|---|

واکسین یو <u>ډول</u> مواد دي.

واکسین یو <u>قسم</u> مواد دي.

د خولې یا <u>ستن لګولو</u> له لارې بدن ته تېرېږي.

د خولې یا ـــــــ له لارې بدن ته تېریږي.

کله چې ناروغي پر <u>بدن</u> حمله وکړي.

کله چې ناروغي پر ـــــــ حمله وکړي.

د دې کیسې اصلي مطلب د څه په باره کې دی؟

-- د ناروغۍ په باره کې

-- د صحت په باره کې

-- د واکسین کولو په باره کې

موږ څنګه د ناروغۍ مخنیوی کوو؟

-- په ښه خوراک

-- د پاکو جامو په اغوستلو

-- په واکسین کولو

په کوم وخت کې واکسین کول پکار دی؟

-- د ناروغۍ په وخت کې

-- تر ناروغۍ وروسته

-- تر ناروغۍ د مخه

# توکران

افغانستان ډول ډول ښه وړین او وریښمین توکران لري. دا توکران زیاتره د مېږو او پسونو له وړیو، د وزو له وژغنو او وریښمنو څخه جوړیږي، کرک د وزې له پستو وژغنو څخه اوبي. دا پستې وژغنې د وښتانو په بېخونو کې وي او پټ ورته وايي.

د هرات کرک او بشروبه مشهور دي او په ګرانه بیه خرڅیږي. په بدخشان کې یو ډول بشروبه د هوسۍ له پټ څخه جوړیږي، چې ډېر ښکلې وي.

د ماشپنخانو کشمېرې چې په کابل یا د کابل په شاوخوا کې جوړیږي، ډېر ډولونه لري چه اصلي او رنګونه لري. زموږ د هېواد په ډېرو ځایونو کې له وریښمو او مالوچو نه هم خلک ډول ډول توکران جوړوي.

له لاندې جدول څخه ضد کلمې غوره کړئ او ورکړ شویو کلمو سره ونښلوئ.

| ضد | کلمه |
|---|---|
| سر | قېمتي |
| ارزانی | پسته |
| سخته | ښخ |

دا لاندې کلمې مناسبو تشو ځایونوکې ولیکئ؟

| |
|---|
| کرک، ورېښمو، بشرویه |

_____ د هوسۍ له پت څخه جوړیږي.

له _____ او مالوچو نه هم ټوکران جوړوي.

د هرات _____ ډېر مشهور دي.

د کیسې د اصلي مطلب لپاره مربوطه شمېره په نخښه کړئ.

د کیسې اصلی مطلب څه دی؟

-- د افغانستان زراعت

-- د افغانستان تجارت

-- د افغانستان ټوکران

-- د افغانستان نباتات

صحیح ځواب په نخښه کړئ.

په افغانستان کې ټوکران:

-- د پسو له وړیو څخه جوړیږي.

-- له پوزیو جوړیږي.

-- له لرګیو جوړیږي.

-- له جواریو نه جوړیږي

په بدخشان کی بشرویه:

-- د هوسۍ له پت نه جوړیږي.

-- له وریښمو جوړیږي.

-- له وړیو جوړیږي.

# وخت واېی

لکه باد هسې روان یم
زه له هېچا نه وېرېږم
چاته کله اېساربږم
درنه ځمه زه په وړاندې
که ته ژاړې او که خاندې
کار په وخت باندې په کار دی
هر بې وخته کار ناکار دی
هر بېکاره سړی خوار دی

متضادې کلمې ولولئ او خپل خپل ضد ته یې مخامخ ولیکئ:

| |
|---|
| اېسار، وړاندې، ژاړې، بې وخته، سړی، خوار، هېچا |

ولاړ: ــــــ

وروسته: ــــــ

خاندې: ــــــ

په وخت: ــــــ

ښځه: ــــــ

بډای: ــــــ

هرچا: ــــــ

په لاندې جدول کې هم معنا کلمې لیکل شوې دي، لومړی یې ولولئ، بیابې په جملو کې راولئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ډارېږم، | داسې، | معطلېږم، | مخکې، | لازم، | عبث |

لکه باد هسی روان یم.

لکه باد داسې روان یم.

زه له هیچا نه وېرېږم.

زه له هیچا نه ___

چا ته کله اېسارېږم

چاته کله ___

درنه څمه زه په وړاندې.

درنه څمه زه په ___

کار په وخت باندې په کار دی.

کار په وخت باندې ___ دی.

هر بې وخته کار ناکار دی.

هر بی وخته کار ___ دی.

دا شعر د څه په باره کې دی؟

-- د علم په باره کې

-- د مطالعې په باره کې

-- د وخت په باره کې

-- د ښوونځي په باره کې.

# بشري ټولنه

انسانان په يوازې ځان د ژوند ټول ضرورتونه پوره کولای نه شي. له همدې امله يو د بل مرستې ته اړ دي او په ټولنه کښې يو ځای سره ژوند کوي.

ټول هغه خلک چې په يوه ځای کې ژوند کوي، يوه ټولنه جوړوي . په بشري ټولنه کې هر څوک ښه ژوند کولو له پاره زيار باسي او کار کوي.

عالمان، پوهان، ډاکتران، انجنيران، سوداگر، بزگر، خټگر، ترکاڼان، گنډونکي او داسې نور په گډه يو بل ته کارکوي. يو د بل د ژوند اړتياوې پوره کوي. که چېرې خټگر نه وي، ترکان کار نه شي کولای. د دوارو ډاکتر ته اړتيا وي او دربواړه ببا گنډونکي ته اړ دي.

هر څومره چې د يوې ټولنې غړي يو موټي، يو له بل سره خواخوږي ولري، مرسته سره وکړي، په سوله ژوند وکړي او په گډه زحمت او زيار وباسي، همغومره پرمختگ کوي. د ښه او هوسا ژوند له پاره ورته اسانتياوې برابريږي. دغسې ټولنه په خپله هم په خوشحالۍ سره ژوند کويَ او نوروته يې هم گټه رسيږي.

لاندی هم معنا کلمې ولولئ او بېاېې په خپل خپل ځای کې ولیکئ.

| |
|---|
| کومک، عالمان، محتاج، جامعه، همدردي، زحمت، اړتیا |

موږ هو له بل سره مرسته کوو.

موږ هو له بل سره ----- کوو.

په ټولنه کی پوهان نشته.

په ټولنه کې ------ نشته.

تل هو له بل سره خواخوږي لرو.

تل هو له بل سره ___ لرو.

په ټولنه کې هو بل ته اړ هو.

په ټولنه کې هو بل ته ___ هو.

ټول زیار باسی.

ټول ___ باسي.

کار کولو ته ضرورت شته.

کارکولوته ___ شته

خلک په ټولنه کې ژوند کوي.

خلک په ___ کې ژوندکوي.

د لاندې جملو په تشو ځایونو کې مناسبې ضد کلمې ولیکئ.

پوره: ------- ( نیمګړی، تل، وران )

اتفاق: ------- ( آشنا، بې اتفاقي، وروري )

آسان: ------- ( مشکل، ښایسته، ښه )

ښه: ------- ( خراب، په زړه پورې، سپین)

ګټه: ------- ( تاوان، فایده، خواخوږي )

آسانتیاوې: ------- ( ستونزې، اسان، سوکاله )

بشری ټولنه څه ته وایې؟

-- په بشري ټولنه کې انسان یو له بل سره مرسته نه کوي.

-- هغې ته وایې، چې انسانان یو له بل سره مرسته کوي.

-- انسان په یوازې ځان په آسانه ژوند کولای شي.

-- یوازې ژوند کول ګټه لري.

له لاندې چوکاټ څخه مناسبې کلمې د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ.

| |
|---|
| اړتیا، یو بل، ډاکټر، هر څوک، خوشحالی، سوله |

په بشري ټولنه کې ____ د ښه ژوند کولو لپاره زیار باسي.

ټولنه کې ګډ ژوند ته ____ شته.

وګړي په ټولنه کې ____ سره مرسته کوي

د ټولو ____ ته ضرورت وي.

ټول په ____ ژوند کوي.

____ د ټولو خلکو اړتیا ده، چې سوکاله ژوند وکړي.

# احسان

مسلمان سړی تل له خلکو سره په ژبه، لاس، او مال احسان کوي. په ژبه خلکو ته لارښوونه کوي، هغه څه چې ښې زده وي، بل چاته ښې ورښيي.

که څوک لارښوونې ته اړ وي، په نرمه ژبه ښې لارښوونه کوي.

په لاس نېکي کول هغه دي، چې د ښوه ړوند لاس ونيسي او سمې لارې ته يې برابر کړي، که د بو چا بار دروند وي، ورسره يې وړي.

که څوک وږی یا لوڅ وي، تر خپلې وسې دې ورسره مرسته وشي.

کر د ګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي

اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي

د لاندې چوکاټ لغتونه د جملو په مناسبو تشو ځایونو کې ولیکئ.

| |
|---|
| مسلمان، لارښوونې، ړوند، مرسته، ګل او اغزی |

___ خلک تل بو له بل سره په لاس او مال احسان کوي.

که څوک ___ ته اړوي په نرمه ژبه ښې لارښوونه کوي.

په لاس نېکي کول هغه دي چې د بو ___ لاس ونيسي او لارې ته ښې برابر کړي.

که څوک لوڅ یا وږی وي، تر خپلې وسې دې ورسره ___ وشي.

موږ باید ___ سره تمیز کړو.

د لاندې کلمو لپاره ضد کلمې له ورکړ شوي لست نه وټاکئ.

| | |
|---|---|
| نیکي | پټ |
| ړوند | موړ |
| دروند | سپک |
| وږی | بېنا |
| لوڅ | بدی |

په لاندې جدول کې هم معنا کلمې لیکل شوې، لومړی یې ولولئ او بیا یې په جملو کې په مناسبو ځایو کې راوړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| خلاص کړو، | فرق، | نیکي، | احتیاج، | کومک |

مسلمان سړی تل له خلکو سره مرسته کوي.

مسلمان سړی همېشه له خلکو سره ----- کوي.

هرڅوک باید له بې وزلو سره احسان وکړي.

هرڅوک باید له بې وزلو سره ___ وکړي.

اړ خلک د کمک وړ دي.

___ خلک د کمک وړ دي.

موږ باید د ښو او بدو تر منځ ___ وکړو.

موږ باید خپل ورور له ستونزو څخه وژغورو.

موږ باید خپل ورور له ستونزو څخه ___

د کیسي اصلي مطلب د لاندې موضوع په باره کې دی:

-- د کار په باره کې .

-- د ښوونځي په باره کې.

-- د احسان په باره کې.

-- د بدی به باره کې.

له لاندی ځوابونو څخه سم ځواب غوره کړئ:

مسلمان سړی تل :

-- له خلکو سره په ژبه احسان کوي!

-- په لاس احسان کوي!

-- په مال احسان کوي!

-- یا په دریواړو احسان کوي!

د لاس نیکی کول دا دي :

-- د بو چا بار درنول!

-- له ستړی سره بې پروایې کول!

د مال په واسطه نیکي کول دا دې :

-- له بډای سره مرسته کول!

-- له پاچا سره مرسته کول!

-- له وږي، لوڅ او ببوزلي سره مرسته کول.

# د شاتو مچۍ

یوه ورځ زرغونه له خپل پلار سره باغ ته ولاړه، هلته يې رنګارنګ ګلونه ولېدل. د ګل پر مخ يوه مچۍ ناسته وه، زرغونې ګل ته لاس وروړ، مچۍ وچیچله او يوه کرېکه يې تر خولې راووته.

پلار ورته ووېل خبر دی لورې.

دا د شاتو مچۍ ده، چې پر ګلانو ګرځي شيره ټولوي.

له همدې شيرې څخه شات جوړېږي. مچۍ دغه شيره په خپل ګبين کې ذخيره کوي. مچۍ يو ډېر ښه نظام لري. دوی يوه ملکه لري، چې د ټولو مشري کوي. يو شمېر يې د ځالې ساتنه کوي. نورې ټولې يې کارګرې وي. مچۍ د انسانانو په خبر په ګډه سره کار کوي. اوس مچۍ په نوي ډول روزل کېږي. له همدې مچيو څخه خواږه ګټور شات لاسته راځي. د مچيو روزنه او پالنه خورا ډېره ګټه لري.

له لاندې چوکاټ څخه مناسبې کلمې د جملو په تشو ځايونو کې وليکئ.

| |
|---|
| ولاړه، مچۍ، ګل، شيرې، ګلونه، کرېکه، ووېل |

زرغونه له خپل پلار سره ــــ .

هلته يې رنګارنګ ــــ ولېدل .

د ګل پر مخ يوه ــــ ناسته وه .

زرغونې ــــ ته لاس وروړ .

يوه ــــ يې تر خولې راووته .

د ګلانو له ــــ څخه شات لاسته راځي .

پلار ورته ــــ خير دی .

له لاندي چوکاټ څخه هم معنا کلمات د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ.

| |
|---|
| پروا، بن، زیرمه، اتفاق، څارنه، شان، ډول |

مثال: زرغونه باغ ته لاړه.

زرغونه بڼ ته لاړه.

لوری خیر دی.

لوري ___ نه لري.

ذخیره کوي.

___ کوي.

پخپل منځ کې یووالی لري.

پخپل منځ کې ___ لري.

یوه د بلې ساتنه کوي.

یوه د بلی ___ کوي.

په دا رنګه دوی ګډ کارکوي.

په دې ___ دوی ګډ کارکوي.

له لاندې چوکاټ څخه ضد کلمې په اړوندو ځایونو کې ولیکئ.

| |
|---|
| زوړ، ببل، جګ، ترخه، بې ګټې، زبان، تاوان، ټیټ |

په ګټه: ببل

نوی: ___

خواږه: ___

ګټور: ___

ګټه: ___

لوړ: ___

کبسه د څه شي په باره کې وه؟

ــ د ګلانو په باره کې وه

ــ د مچیو په باره کې وه

ــ د ونو په باره کې وه

مچۍ له څه شي څخه شیره ټولوي؟

ــ له وښو څخه یې ټولوي.

ــ له لرګیو څخه یې ټولوي.

ــ له ګلانو څخه یې ټولوي.

شات له څه شي څخه لاسته راځي؟

ــ له پاڼو څخه لاسته راځي

ــ له ونو څخه لاسته راځي

ــ د ګلانو له شیرې څخه یې مچۍ جوړوي.

# څلورم ټولګي

## پښتو

### ګرامري جوړښتونه:

د لاندېني کلمو له جمعو څخه مفردې او له مفردو څخه جمع کلمې جوړې کړئ.

| هېوادونه | هیواد |
|---|---|
| باغونه | |
| بزګر | |
| ځایونه | |
| مېوه | |
| ګلونه | |
| ګټه | |
| نوي | |
| ورځ | |
| منې | |
| نیالګي | |
| هیلې | |
| سېلاب | |
| مخونه | |
| کار | |

په لاندېني جدول کې ځينې کلمې ليکل شوې دي. د جملو په تشو ځايونو کې ترې مناسبې کلمې وليکئ.

خلک په دې ورځ يو بل ته د نوي کال مبارکي ________ .

(وايو وويل وايم وايي)

خلک ډول ډول خواړه ________ .

(برابروی برابر کړو برابروي)

خلک نوې جامې ________ .

(اغوندي اغوندم واغوندئ)

د نيالګيو ايښودل ډېرې ګټې ________ .

(لرم لرئ لري)

د مځکې مخ په ګلونو پوښلی ________ .

(وو وي وئ)

خلک د سيل او نندارو ځايونو ته ________ .

(ځي ځې ځو ځم)

د لاندېني اداوات د جملو په مناسبو ځايونو کې راولئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| او | ته | په | کې |

خلک په دې ورځ یو بل ـــــــ د نوي کال مبارکي وايي.

خلک ـــــــ نوروز کې ډول ډول خواړه برابروي.

له لرګيو څخه په ودانېو ـــــــ سونګ کې ګټه اخلي.

بزګران په کروندو ـــــــ کار کوي.

د لاندېني جدول له جمعو کلمو سره مفرد وليکئ:

| جمع | مفرد |
|---|---|
| کبان | کب |
| ځنګلونه | |
| چمنونه | |
| منظرې | |
| هېوادونه | |
| باغونه | |
| ښوونځي | |
| سيندونه | |

گرامري جوړښتونه:

| مذکر | مونث |
|---|---|
| زوی یی چېرته تللی دی؟ | لور یې چېرته تللې ده؟ |
| حمید مور دی. | نازو _____ ده. |
| کریم وږی دی. | کریمه _____ ده. |
| شریف ناروغ دی. | شریفه _____ ده. |
| د نازو پلار کور ته راغی. | د نازو مور کورته _____. |
| زما ورور ډاکتر دی. | زما خور _____ ده. |
| احمد زموږ ګاونډی دی. | ملالۍ زموږ _____ ده. |

په دې جدول کې ادوات لیکل شوي دي. د جملو په مناسبو ځایونو کې

یې ولیکئ.

| له | په | څخه | او | چې | ورسره | کې |
|---|---|---|---|---|---|---|

مثال: ایمل له خپل پلار څخه پوښتنه وکړه.

څوک ___ زموږ ___ شاوخوا ___ اوسیږي .

هغه څوک زموږ ___ ډلې نه دي ___ خپله مور ___ ګاونډي یې وږی

وي.

ګاونډي که اړ وي باید مرسته ___ وکړو.

په لاندېني چوکاټ کې د نومونو جمع او مفرد لیکل شوي دي، د جملو په تشو ځایونو کې یې ولیکئ:

| جمع | مفرد |
|---|---|
| | پیشو |
| بلاوې ، بلاګانې | دښمن |
| جنګونه | ورځ |
| وختونه | ونه |
| مرغۍ | ورور |
| رنګونه | ګټه |
| | خوله |

زما ______ ډېره ښکلې ده.

______ د هېچا نه خوښېږي .

له ______ سره هم سوله کول ښه دي.

زه هېڅکله خوشې ______ نه تېروم .

زما ______ نه خوښېږي .

د هغې د توت ______ خوښه ده.

تېر ______ مې را پر زړه شول .

ماته ______ وویل .

په ونه کې ______ ځاله جوړوي.

ګلان ډېر ______ لري.

______ یې ترخه شوه.

سبق ویل ډېره ______ لري.

لاندې ورکړ شوي مناسب ادوات د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| او | په | له | کی |

مرغۍ شوې پاس ____ ونه کې په جنګ .

نفاق دواړه د بلا په خوله ______ ورکړې.

____ کور څخه اوس راغلم.

زما ____ ستا خبره یوه ده.

د لاندې جملو په تشو ځایونو کې صحیح فعل ولیکئ.

دوې مرغۍ ______ پاس په ونه کې په جنګ. (شوې - شوه - شوله)

پیشو توپ ______ دواړه بې ونیولې. (کړ - ونیولې- کړیدي)

دواړه یې غبرګې ______. (ونیولې -ونیول- ونیوه)

که څوک ______ اختلاف له خپله وروره. (کړ- کړیدی - وکړي)

له دښمنه به پامال ______ له ضروره. (شي - شوی - شوم)

د لاندې جملو په تشو ځایونو کې مناسبې مفرد او جمع کلمې ولیکئ.

د ګل پر پاڼه یوه مچۍ ______ وه. (ناستې، ناسته)

زرغونې ګل ته ____ ورووړ. (لاسونه، لاس)

دا مچۍ پر ____ ناسته ده (ګلان، ګل)

یوه مچۍ د ګل ____ راټولوي. (شیره، شیرې)

دوی یوه ____ لري. (ملکه، ملکې)

له همدې مچیو څخه ____ شات په لاس راځي. (خور، خواره)

د جملو په تشو ځایونو کې مناسبې کلمې استعمال کړئ.

بوه ورځ زرغونه باغ ته ______. (لاړ، ولاړه)

د گل پر پاڼه بوه مچۍ ناسته ______. (و، وه)

دا مچۍ ده چې پر گلانو ______. (گرځېدل، گرځي)

يوه کريکه بې تر خولې ______. (راووته، راووت)

دوی پخپل منځ کې بوه ملګه ______. (لري، لرل)

مچۍ شات ______. (جوړوي، جوړاوه)

يو شميريې د ځای ساتنه ______. (کوئ، کوي)

په لاندې تشو ځایونو کې مناسبې کلمې وليکئ.

______ راغله. (هغه، هغوی)

______ کورته راغله. (دی، دا)

______ باغ ته ولاړل. (دی، دوی)

______ پوښتنه وکړه. (چا، څوک)

______ زموږ په گټه دي. (دغه، دغو)

د لاندې جملو لپاره صحیح فعلونه وټاکئ او بیایې د جملو په تشو ځایونو کې استعمال کړئ.

د یوه احسان په بدل کې لس اجره ـــــ. (ورکوي، ورکوې، ورکول)

مسلمانان باید نیک او بد سره تمیز ـــــ. (کړي، کړو، کړې)

نیک کارونه وکړو او له بدو څخه ځان ـــــ. (وژغورو، وژغوري، وژغورې)

هر څه چې وکړو هغه بیرته موږ ته ـــــ. (راځي، راځو، راځې)

له خلکو سره احسان کول د خدای(ج) د رضا سبب ـــــ.

(ګرځي، ګرځېدل، وګرځېدل)

له لاندې چوکاټ نه مفردې او جمع کلمې په جملو کې په مناسبو تشو ځایونو کې استعمال کړئ.

| | |
|---|---|
| ژبه | ژبې |
| لاس | لاسونه |
| مال | مالونه |
| کار | کارونه |
| بار | بارونه |

خپله ژبه هم کلا ده هم بلا.

خلک په دواړو ـــــ کار کوي.

ښه سړی له خلکو سره په ــــ او ــــ احسان کوي.
موږ باید نیک ــــ وکړو او له بدو څخه ځان وژغورو.
اوبښان درانه ــــ وړي.

لاندېنۍ ادوات د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ.

| |
|---|
| که، یا، په، ته، د، او |

که څوک وږی، لوڅ ــــ مفلس وي ــــ خپل توان ــــ اندازه ورسره مرسته وشي ــــ که کوم اسباب ــــ اړتیا ولري هغه اسباب ورته ــــ پور ورکړ شي.

د لاندې جملو په تشو ځایونو کې مفرد او جمع کلمې په مناسب ډول استعمال کړئ.

| | |
|---|---|
| زموږ په ټولنه کې ډېر ــــ شته. | (ډاکتر، ډاکتران، ډاکترې) |
| دوی زموږ د ټولنې ــــ دي. | (غړی، غړو، غړي) |
| هغه زموږ د ټولنې ــــ ده. | (غړې، غړو، غړی) |
| په ټولنه کې زیاتو ــــ ته اړتیا وي. | (سوداګر، سوداګرو، سودا) |
| ــــ په بیړه کورته لاړ. | (بزګران، بزګر، بزګرو) |
| زه له خپلو خلکو سره ــــ لرم. | (خواخوږي، خواخوږې) |

له ورکړ شویو فعلونو څخه مناسب فعل د جملې په تشه برخه کې ولیکئ.

دریواړه ګنډونکي ته اړ ___. (دي، کړ، دی)

موږ یو له بل سره خواخوږي ___. (لري، لرو، لرې)

ټولنه په خوشحالۍ سره ژوند ___. (کوي، دی، لرې)

هر چا ته خپله برخه ___. (رسېږي، دی، وی)

زموږ ګاونډۍ ډاکټره ___. (دی، ده، دي)

د هغوی ګاونډی ډاکټر ___. (دي، دی، دې)

له لاندې کلمو څخه ښځینه او نرینه کلمې په مناسب ځای کې ولیکئ.

___ په خوشحالۍ سره مرسته کوي. (هغو، هغه، هغې)

___ یو له بل سره ګډ ژوند ته اړتیا لري. (هغې، هغوی، دغې)

___ ډاکترې راته ووېل. (هغې، هغو، هغه)

___ ډاکتر دی. (دې، دا، هغو)

له مور سره ___ مرسته وکړه. (بې، دا، دغه)

زه ___ خپل کارونه کوم. (دې، مې، دغی)

___ راته ووېل. (دا، دې، مې)

مناسب اداوت د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ.

هر څوک د ښه ژوند له پاره زیار باسي ــــ کارکوي. (کې، او، په)

ــــ بشري ټولنه کې ټول یو بل ته اړتیا لري. (په، کی، ته)

یو ــــ بل سره خواخوږي لري. (له، ته، سره)

دغسې ټولنه ــــ خپله هم په خوشحالۍ ژوند کوي. (کې، په، او)

مفرد او جمع نومونه په جملو کې راولئ.

| | |
|---|---|
| سړي | سړی |
| کار | کارونه |
| باد | بادونه |
| وخت | وختونه |

هر ښکاره سړي خوار دی. (سړي، سړی)

رښتیا ویل، کوښښ کول او نېکي ښه ــــ دي. (کار، کارونه)

د پسرلي ښکلي ــــ راوالوتل. (باد، بادونه)

سهار، غرمه، مازیگر، ماښام، ماسخوتن پنځه ــــ دي. (وخت، وختونه)

لاندېنې ضمېرونه د چوکاټ څخه د جملو په تشو او مناسبو ځايونو کې استعمال کړئ.

| هېڅا ، زه ، چا ، ته |
|---|

زه له ___ نه وېرېږم.

___ ته کله ابساربږم.

ورنه څمه ___ په وړاندې

که ___ ژاړې او که خاندې

له لاندې ادوات د جملو په مناسبو ځايونو کې راولئ.

| ته، په، او، له |
|---|

زه ___ هېچا نه وېرېږم

چا ___ کله ابسارېږم

درنه څمه زه ___ وړاندې

که ته ژاړې ___ که خاندې

مفرد او جمع فعلونه په جملو کې راولئ.

| ځم | ځو |
|---|---|
| ابسارېږم | ابسارېږو |
| يم | يو |
| وېرېږم | وېرېږو |
| ژاړم | ژاړو |
| خاندم | خاندو |

زه تر رخصتۍ وروسته په ښوونځي کې نه ایساریږم. (ایساریږو، ایساریږم)

موږ پر خپل وخت ښوونځي ته ____. (ځم، ځو)

زه زده کوونکی ____. (یو، یم)

موږ له تاسې څخه نه ____ . (ویریږم، ویریږو)

زه د ډېر زحمت له امله نه ____. (ژاړو، ژاړم)

موږ هر وخت نه ____. (خاندم، خاندو)

له لاندې جدول څخه جمع او مفردې کلمې په خپلو خپلو ځایونو کې ولیکئ!

ځای هوسۍ رنګ ببخونه

| مفرد | جمع |
|---|---|
| دا پسه دی . | دا پسونه دي. |
| دا ښه ____ دی. | دا ښه ځایونه دي . |
| دا هوسۍ ده. | دا ____ دي. |
| دا تصویر ښه ____ لري. | دا تصویر ښه رنګونه لري. |
| دا د ونې ببخ دی. | دا د ونې ____ دي. |

لاندې فعلونه لېکل شوي دي، د جملو په تشو ځايونو کې يې وليکئ.

| | |
|---|---|
| د هرات کرک مشهور ــــــ. | (دي، دې، دی،) |
| کرک او بشروبه په ګران قيمت ــــــ. | (خرڅېږي، خرڅوی، څوو) |
| يو ډول بشروبه د هوسۍ له پت څخه ــــــ. | (جوړېږي،جوړشوی، جوړېدل) |
| بشروبه ډېره ښکلې ــــــ. | (وي، ده، دي) |
| کشمېره ډېر ډولونه ــــــ. | (لري، لرم، لرو) |
| په ځينو ځايوکې د ورېښمو ټوکران ــــــ . | (جوړوي، جوړوو، جوړېږي) |

له لاندې چوکاټ نه مناسب ادوات غوره کړئ او د متن په تشو ځايونو کې

يې ولېکئ.

| |
|---|
| کې، له، او، څخه |

افغانستان ډول ډول اعلی ــــ قيمتي ټوکران لري. دا ټوکران زياتره د پسو ــــ ورېو ــــ جوړېږي. کرک ــــ بشروبه دوزي ــــ پستو وړغنو څخه اوبي. دا پستي وړغنې د وېښتانو په ببخو ــــ وي او پت ورته وايي.

دا لاندې مفرد او جمع نومونه په جملو کې راوړئ.

| | |
|---|---|
| ستن | ستنې |
| وسیله | وسیلې |
| مکروب | مکروبونه |
| ماشوم | ماشومان |
| حمله | حملې |

مثالونه:

د واکسین ستن باید پاکه وي.

د واکسین ستنې باید پاکې وي..

ناروغې پر بدن ـــــ کوي.

ناروغې پر بدن ـــــ کوي.

د شري ـــــ وده کوي.

د شري ـــــ وده کوي.

ـــــ باید تر زېږېدو وروسته واکسین شي.

ـــــ باید تر زېږېدو وروسته واکسین شي.

په لاندې جملو کې د فعلونو سمه بڼه ولیکئ.

| | |
|---|---|
| هره ناروغي ځانته ځپل واکسین ———. | (لرم، لرو، لری) |
| ځینې واکسینونه په ځو دورو کې په نوبت سره ———. | (کیږي، کیږم، کیږی) |
| لومړۍ دورې واکسینونه تطبیق ———. | (شم، شئ، شي) |
| واکسین باید د والګي او تبې په وخت کې هم ———. | (شئ، شو، شي) |
| ماشوم باید په ورووکتوب کې واکسین ———. | (شو، شئ، شي) |
| واکسینونه هیڅکله ناروغي نه ———. | (پیدا کوو، پیدا کوي، پیدا کوم) |

له ورکړو شویو کلمو څخه مناسبه کلمه د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ.

| | |
|---|---|
| جرګه د افغانانو ملي دود ———. | (دی، دي، ده) |
| خبرې اترې وربانډې ———. | (کوي، کول، کوم) |
| د جرګې پریکړې ټول خلک ———. | (مني، منئ، منم) |
| هر څوک خپل نظر ———. | (وایي، وایم، وایو) |
| د هر چا خبرې اوریدل ———. | (کیږي، کیږم، کیږو) |

دا لاندې جمع او مفرد کلمې د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| جرګه | شخړه | مشران | افغان |
| افغانانو | جرګو | پرېکړه | ستونزې |
| ستونزه | شخړې | مشر | پرېکړې |

که کومه ستونزه پېدا شي په جرګه اوارېږي.

کله چې کومه ستونزه پېدا شي د قوم ـــــ سره راغونډېږي.

تر ډېر فکر او غور وروسته بوه ـــــ کېږي.

ستونزې او ـــــ د جرګو له لارې اوارېږي.

د ـــــ پرېکړې ټول خلک مني.

جرګه د ـــــ ملي دود دی.

# ځلورم ټولګي

## پښتو

### املا

د لاندې جدول کلمې ولولئ د «الف، ی ، و ، ه» په ستون یې ولیکئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| انار | سمسور | زرغون | ده | خوشحالي | |
| ټول | مېوه | ناک | شفتالو | نیالګي | لومړی |

| ا | و | ی | ه |
|---|---|---|---|
| انار | شفتالو | نیالګي | ده |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

د لاندېني جدول کلمې د جملو په تشو او مناسبو ځایونو کې ولیکئ:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| رنګ رنګ | خوشحالي | غوړېدلي | ځایونو | ډول، ډول | جامې |

خلک په نوروز کې ______ خواړه برابروي.

نوې ______ اغوندي.

د سیل او نندارو ______ ته ځي.
د ربدي ، ارغوان او غاټول ګلان ______ وي
د مځکې مخ په ______ ګلانو پوښلی وي.
نوروز د ______ ورځ ده.

په دې لاندې جدول کې ځینې نخښې لیکل شوې دي. تاسې یې د جملو په مناسبو ځایونو کې راولئ.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| : | » | « | ، | . | ؛ | ؟ |

مثال: ایمل له پلار څخه پوښتنه وکړه : « ګاونډي څوک دي؟ »

پلار یې ورته وویل __ __ زویه __ څوک چې زموږ د کور په شاو خوا کې اوسیږي، ګاونډي بلل کیږي __
زموږ پیغمبر حضرت محمدﷺ فرمایلي دي __ __ هغه څوک زموږ له ډلې څخه نه دی، چې په خپله موړ او ګاونډی یې وږی وي.

يو ډول آواز لرونکې کلمې تر خپل کتار لاندې ولیکئ.

| نیول ، اخیستل ، ویل ، سیندونه ، پوښاک ، اوبه کول ، خوراک |
|---|
| چمنونه ، چلول ، ښاک ، څنګلونه ، صافول ، غرونه ، باغونه |

| سیندونه | اوبه کول | خوراک |
|---|---|---|
| غرونه | | |
| | | |
| | | |

د لاندېنیو جملو په تشو ځایونو کې سمې کلمې ولیکئ.

مثال: زما مرغۍ ډېرې خوښیږي. {مرګۍ – مرغۍ – مرغي}

______ یو کورنی حیوان دی. {پیشو – پیښو – پیسو}

______ اچول د ښو خلکو کار نه دی. {نفاک – نپاک – نفاق}

ناڅاپه یې په هغه ور ______ کړه. {توپ – تیوپ – طوپ}

زه له چا سره ______ نه لرم. {اخطلاف – اختلاف – اختلاپ}

پام کوه چې ______ در څخه تېر نه شي. {وقت – وخت – وکت}

سمې کلمې د لینديو څخه انتخاب او د جملو په تشو ځایونو کې یې ولیکئ.

د خلکو په منځ که کومه ـــــــ پېدا شي، د جرګې له لارې حل کېږي.

{ ستونزه، ستونذه، ستونځه }

هر څوک خپل ـــــــته ښه وايي.

{ نظر، نضر، نذر }

تر ډېر فکر او غور ـــــــ داسې پرېکړه کېږي چې ټولو ته د منلو وړ وي.

{ ورروسته، روسته، رسته }

لاندې جملې په سمو کلمو ډکې کړئ.

ـــــــ یو ډول مواد دي. { واکسین، واکصین، واکثین }

د خولې یا ـــــــ لګولو له لارې پر بدن تطبیق کېږي.

{ شتن، ستن، سطن }

کله چې ناروغي پر بدن ـــــــ وکړي. { امله، همله، حمله }

نو بدن ـــــــ پېدا کړی وي. { مافیت، معافیت، ماپیت }

پر بدن ـــــــ نه شي کولای { تاسیر، تاثیر، تشیر }

پر بدن ـــــــ نه شي کولای { تاسیر، تاثیر، تشیر }

په لاندې تشو ځايونو کې سمې کلمې په نخښه کړئ،

منسوجات اکثراً د ـــــ له ورېو څخه جوړېږي. {پصونو، پسونو، پشونو}

بشروبه د هوسۍ له ـــــ څخه جوړېږي. {پط، پټ، بت}

افغانستان ډول ډول اعلی او ـــــ منسوجات لري. {قيمتي، قېمطی، کبمتي}

په ـــــ ځايو کې له ورېښمو ټوکران جوړېږي.

{ځينو، زېنو، ذېنو}

په لاندې جملو کې سمې کلمې په نخښه کړئ.

لکه باد ـــــ روان يم. { هسې، هصې، اسې }

چاته کله ـــــ { حصارېږم، اېشارېږم، ايسارېږم}

درنه ـــــ زه په وړاندې { ذمه، زمه، ځمه }

که ته ـــــ او که خاندې { ژاړې، ځاړې، زاړې }

هر بې ـــــ کار ناکار دی { وښته، وخطه، وخته }

هر بېکاره ـــــ خوار دی { ښړی، صری، سړی }

په لاندې جملو کې سمې کلمې په نخښه کړئ.

په ـــــ توګه د ژوند ټول ضرورتونه پوره کړي .

{ ځانګړې، ځانګړې زانګړې }

بوه بشري ـــــ جوړوي .    { تولنه، طولنه، ټولنه }

که چېرې ـــــ نه وي، ترکاڼ کار نه شي پوره کولای.

{ ختګر، ختېګر، خطګر }

ټول په ګډه ـــــ باسي .    { زېار، ذېار، ضبار }

د ژوند له پاره ـــــ برابرېږي.    { اسانتیاوې، اصانتیاوې، آثانتیاوې}

له لاندې ورکړ شویو لغتونو نه د تشو ځایونو د ډکولو له پاره سمې کلمې غوره کړئ.

مسلمان سړی تل له خلکو سره په ژبه، لاس، او مال ـــــ کوي.

{ احصان، احسان }

موږ باید نېک او بد سره ـــــ کړو.    { تمېظ، تمیز، تمېذ }

که کوم اسباب ته اړتیا ولرې ورته په ـــــ ورکړ شي.

{عاریط، عاریت }

د خپل ـــــ په اندازه ورسره مرسته وشي.    { توان، طوان }

سمې کلمې د جملو په تشو ځایونوکې ولیکئ.

| | |
|---|---|
| ـــــــ بې رنګارنګ، ګلونه ولېدل. | { هلته، الته } |
| ـــــــ مچۍ وچنېچله. | { هغه، آغه } |
| دا مچۍ ده، چې پر ګلانو ـــــــ . | { ګرځي، ګرزي } |
| په ـــــــ سره کارکوي. | { ګده، ګډه } |
| مچۍ بو ښه ـــــــ لري. | { نظام، نزام } |
| شات ډېره ـــــــ لري. | { ګته، ګټه } |

# څلورم ټولګی

## پښتو

### انشا

د لاندېني جدول مناسبې کلمې د جملو په تشو ځايونو کې وليکئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ښوونځی | هېواد | ښکلی | ځر | کرونده |

#### افغانستان

زموږ ______ افغانستان دی.

زموږ هېواد په طبيعي منظرو ______ ښکاري.

افغانستان د ښارونو د ______ له پاره ښه ځايونه لري.

بايد د افغانستان په هر کلي کې يو ______ وي.

د افغانستان زيات خلک په ______ کې کار کوي.

هرې جملې ته مخامخ درې کلمې ليکل شوې دي. په سمو کلمو تش ځايونه ډک کړئ.

ايمل له پلار څخه ______ وکړه. «پوختنه، پښتنه، پوښتنه»

ګاونډي ______ دي؟ «صوک ، سوک ، څوک»

څوک چې زموږ د کور په ______ کې اوسيږي. «ښاوخوا، شاوخوا، خاوخوا»

ګاونډيان يو پر بل ډېر ______لري. «هکونه ، عقونه ، حقونه»

که ______ وي مرسته ورسره کړو. «اړ ، هاړ ، هړ»

______ ورسره وکړو. «مرصته، مرخته ، مرسته»

څوک نشته چې ______ ته يې ورولې. «ډاکتر، ډاګتر ، دانګتر»

څو ـــــــ وروسته پیرمحمد کاکا جوړ شو. «ورزې ، ورذې ، ورځې»

له لاندې کلمو څخه مناسبې کلمې د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ :

# اتفاق

د بې اتفاقۍ له امله وطن ـــــــــ . (ورانیږي، لوړیږي، گټل کیږي)

موږ باید پخپلو کې سره مینه ـــــــ . (ځو، ولرو، لرله)

که یو له بل سره مینه او محبت نه ـــــــ ، (دی، دي، وي)

نو هیڅ ډول ـــــــ به زموږ په نصیب نه شي. (کامیابي، غم، کار کول)

که چیرې اتفاق ـــــــ نو کارونه نه سمیږي. (نه وي، لري، وي)

په لاندې پراگراف کې تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

| مچۍ، خواږه، انسانانو، روزنه، نظام |
|---|

مچۍ تل د ـــــــ په څېر په گډه سره کارکوي.

اوس ـــــــ په نوې ډول سره روزل کیږي.

له همدې مچیو څخه ـــــــ او گټور شات لاسته راځي.

د مچیو ـــــــ او پالنه خورا گټه لري.

مچۍ پخپل منځ کې ښه ـــــــ لري.

له لاندې کلمو نه سمې کلمې خوښې کړئ او په مناسبو ځایونو کې یې ولیکئ.

| |
|---|
| ربېې، احسان، شاوخوا، وژغوري، اغزی |

هر انسان ته لازمه ده، چې له خلکو سره ـــــ وکړي.

ګلان وکري چې ـــــ یې ښکلې او ښاېسته شي.

له بدو نه ځان ـــــ داسې ونه کړي چې ـــــ وکري.

هوښیاران وایي : څه چې کرې هغه به ـــــ که ګلان کرې

ګلان به ربېې او که اغزي کرې ـــــ به یې ثمروي.

له لاندی کلمو څخه سمې کلمې د جملی په تشو ځایونو کې ولیکئ.

| |
|---|
| اتفاق، غړي، پرمختګ، ډاکتران او انجنیران، هوساینې، ترقي |

په بشري ټولنه کې ـــــ ته اړتیا شته.

هر څومره چې د یوې ټولنې ـــــ اتفاق ولري، په همغه اندازه ـــــ کوي.

په ټولنه کی ـــــ هم ډېر کار کوي.

ګډ ژوند کول د ـــــ سبب کیږي.

په اتفاق سره ټولنه ـــــ کوي.

له لاندې کلمو څخه مناسبې کلمې د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ :

| |
|---|
| باد په شان، معطلېږم، ژاړې، خاندې، مخ په وړاندې، |
| کار، هېڅ،   وخت،   کارکول،   خوار او غریب |

## وخت وایي

زه د _____ روان یم.

له _____ نه وېرېږم او نه چا ته _____.

که ته _____ او که _____.

زه ور څخه _____ ځم.

کار په _____باندې په کار دی.

بې وخته _____ بې فایدې او عبث دی.

څوک چې بېکاره ګرځي، هغه _____ وي.

له لاندېنیو کلمو څخه مناسبې کلمې په تشو ځایونو کې ولیکئ.

| |
|---|
| پټ، وېښتانو، پسته، پسو، منسوجات، اعلی |

افغانستان ډول ډول _____ او قیمتي _____ لري. دا منسوجات اکثراً د _____ له وړیو څخه جوړېږي. کرک او بشروېه له _____ وړیو څخه اوبي. دا پستې وړۍ د _____ په بېخو کې وي او _____ ورته وایي.

دا لاندې کلمې په مناسبو ځايونو کې ولیکئ:

ستن لګولو، تطبیق، ناروغي، معافیت، دفع، بدن

واکسین یو ډول مواد دي، چې د ناروغۍ څخه مخکې د خولې یا _____

له لارې په بدن _____ کیږي.

کله چې _____ په بدن حمله وکړي، نو بدن _____ پیدا کړی وي.

هغه ناروغي _____ کوي او پر _____ تأثیر نه شي کولای.

دا لاندې کلمې د جملو په تشو ځايونو کې ولیکئ.

هیڅوک، ناغه، مني، جرګو، جرګه

د جرګې له پریکړو څخه _____ سر نشي غړولای.

که څوک سر وغړوي _____ کیږي.

د جرګې پریکړې ټول خلک _____.

ستونزې او شخړې د _____ له لارې فیصله کیږي.

د لاندې پوښتنو په رڼا کې د مور په باب يو کوچنې پراگراف وليکئ.

مور ولې د ماشومانو له پاره ډېره درنه ده؟

د خبرو کولو طريقه يې څنگه در ښودله؟

د گرځېدو طريقه يې څنگه درښودله؟

ښوونځي ته يې څنگه لېږلې؟

او د روغتيا د ساتلو په اړه به يې څه کول؟

د لاندې پوښتنو په ځوابونو پراگراف جوړ کړئ .

يو متل له مفهوم سره وليکئ ؟

متل خلک د څه لپاره وايي ؟

لاندې پوښتنو ته په ځواب ويلو سره د افغانستان د کانونو په باره کې يو

کوچنی پراگراف وليکئ .

په افغانستان کې کوم کوم کانونه پيدا کيږي ؟

کانونه هيواد ته څه گټې لري؟

تاسې کوم کان پېژنئ ؟

د پراګراف تش ځایونه په مناسبو کلمو بشپړ کړئ؟

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| عالم | ستر | نړۍ | افغانستان | ترکیه | شخ |

سید جمال الدین افغان ډېر لوی ـــــ او د ـــــ له مشهورو خلکو څخه و او ـــــ خدمتونه یې کړي دي. هغه اروپا او عربي ـــ ته هم سفرونه کړي دي. په ۱۸۹۷م کال په ـــ کې وفات او هلته ـــــ شو.

لاندې بې ترتیبه جملې د نومرې په ورکولو سره داسې ترتیب کړئ، چې د عنوان له مخې یو معنا ورکوونکی پراګراف ترې جوړ شي.

## پښتو الفبا

ـــ۱ـــ د پښتو ژبې ټول څلوېښت توري دي.

ـــــ چې له هغو څخه (۲۲) توري د پښتو او دري د پښتو او دري تر منځ ګډ دي.

ـــــ اته توري د پښتو ژبې خپل توري دي.

ـــــ چې په دري او عربي کې نه کارول کیږي.

د پراګراف تش ځایونه په مناسبو کلمو بشپړ کړئ

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| میرولی | پلار | موټر | پکتیا | لاره | غرونه | ګټه |

____ له خپل ____ سره ____ کې ____ ته روان و. په ____ کې یې هرې خواته ښکلې او رنګارنګ ____ ولیدل . له خپل پلار څخه یې پوښتنه وکړه: «پلاره ! زموږ په وطن کې ، څومره ډېر غرونه دي؟ دا څه ____ لري؟ »

لاندې بې ترتیبه جملې په ترتیب کړئ او په یوه پراګراف کې یې سمې ولیکئ.

## اتفاق

____ ای زامنو! که حقیقت ووایم .

____ که مو پخپل منځ کې اتحاد او اتفاق درلوده.

____ نو ستاسې حال به دغسې وي.

____ که مو دښمني او بې اتفاقي وکړه.

____ هېڅ قوی لاس به پر تاسې د پاسه نه وي.

____ د دښمن یو ضعیف لاس به تاسې ماتوي.

لاندې بې ترتیبه جملې په ترتیب ولیکئ:

____ کمې وې په کلي کې لوګي او دوړې.

____ نو تازه وي هوا لړ څه .

____ بهېږي ویالې پکې ډکې د یخو اوبو.

____ رنې اوبه روانې وي په سیندونو او لښتیو کې.

لاندې بې ترتیب جملې په ترتیب ولیکئ:

____ دی برکت په چینو د وطن کې.

____ وي اوبه سړې په اوړي کې.

____ وي اوبه تودې په ژمي کې.

لاندې بې ترتیبه جملې په ترتیب ولیکئ:

____ په ونه کې په جنګ شوې دوه مرغۍ .

____ توپ کړ پېشو بې غبرګې ونیولې دواړه .

____ لاندې ولوېدلې د غونډوسکې غونډې دواړه

____ ویې کړ چغ و پغ او فریاد ډېر .

____ خو وخت ځنې تیر و او څه نه کېدل .

Supported and coordinated by UNICEF and
Save the Children (USA)

Printed at Intol Printing and Packaging